مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اڅر ۲۰۲۳/۱۰/۲۳

# غازي امان الله خان د انګرېزي استخباراتو په لومه کې

(دوولسمه برخه)

**له افغان ولس او غازي امان الله خان سره د جنرال نادر خان غداري او ټګي (۱)**

سقاؤ له کابله شمالي ته په یوه تېښته ورسېد او«د کوهستان خلکو ګلان پرې وشیندل، هغه د یوې مودې لپاره د کوهستان خلکو ته وقار او عزت ورپه برخه کړی ؤ چې هغوی یې هېڅ توقع نه کوله... شاه ولي او نادر ډېر ژر کوهستان ته عسکر واستول چې کلیو ته اور واچوي.»[1]

له بلې خوا جنرال نادر خان د ۱۳۰۸ل. ل، کال د تلې میاشتې په ۲۴مه نېټه له ځاځیو څخه کابل ته رسیدلی ؤ، له هر څه لومړی یې د انګرېز همفریز هغه پلان پلی کړ چې په پېښور کې یې د یوې خپلمنځي ناستې پر مهال ورکړی ؤ:**«نادر له همفریز څخه د یو پخواني دوست په توګه وغوښتل چې ورته مشوره ورکړي چې څه وکړي؟ همفریز مشوره ورکړه چې مجلس [جرګه] دې دایره کړي او قبایلو ته دې ووایې چې یو تن د خپل پاچا په توګه ومني امان الله یا بل څوک.»**[2]

نادر خان همداسې وکړل، د کابل د ارګ د سلامخانې په ودانۍ کې غونډه جوړه کړه او د یو شمېر هغو کسانو لخوا چې له وړاندې پوهول شوي وو د پاچاهۍ وړاندیز ورته وشو، نادر خان لومړی زړه نازړه ؤ او تردد یې ښکاره کړ چې دا د هغه نمایشي او غولوونکي کړنې وې خو بیا یې د خپلو کسانو وړاندیز ومانه. په دې هکله د (بحران او نجات) په کتاب کې چې میر غلام محی الدین انیس لیکلی او د نادري کورنۍ لخوا لاسوهنه او مبالغه په کې شوې ده[3] د افغانستان د پاچا په توګه د نادر خان ټاکلو جریان د یوې فلمي کیسې (سناریو) په ډول لیکل شوی دی چې د هغه بهیر څرنګوالی په لنډه توګه لیکو:«د غونډې ټولو حاضرینو[؟] نادر خان ته د پاچاهۍ وړاندیز وکړ، د خلکو دا غوښتنې لا پای ته نه وې رسیدلې چې له هر لوري د خوشالۍ ناري پورته شوې: د افغانستان استقلال بښونکی پاچا، اعلیحضرت محمد نادر خان دې ژوندی وي.
د مبارکیو په دې حالت کې ربښتیا هم شاهانه ذات وېریدلی ؤ. لکه څرنګه چې د دې پاڼې پر مخ شته، د هغه زړه نازړهتوب او وېره، له هماغه حالت چې د پاچاهۍ د وړاندیز په کولو ورته اوښتی ؤ اخیستل شوی چې په بشپړ ډول یې ښکاره او په دقت سره څرګندوي چې دغه دعوت او انتخاب تر کومې کچې هغه په ژور زړه نازړهتوب کې اچولی ؤ چې وروسته له یو اوږده فکر کولو یې خپله عقیده بیا څرګنده کړه، بیا هغه وویل: ما تر دې ځایه خپل نذر نیولی ؤ چې هېواد د سقاؤ او غلو له لاسه وژغورم، دا دی الحمدالله خپلې هیلې ته ورسیدم، **اوس د پاچاهۍ مسئله د ملت انتخاب ته پرېږدم، زه هېڅکله د پاچاهۍ هیله نه لرم، لکه څرنګه مې چې لومړی خپله اراده او تصمیم اعلان کړی دی.»**
خو حاضرو ځایي اوسیدونکو، مشرانو او علماوو له دې نور صبر ونه کړای شواو په ډېر شور او زوږ سره یې په خپل انتخاب ټینګار کاوه او دا یې هم زیاته کړه چې په دې غونډه کې نږدې د ټول هېواد کسان حاضر دي، په ټول هېواد کې

---

[1]: اور په افغانستان کې. ۷۲۱مخ.
[2]: هماغه کتاب. ۶۶۰مخ.
[3]: نامتو ژورنالست او لیکوال، مرحوم میر غلام محی الدین آنیس چې د نادري کورنۍ په زندان کې وفات شو، د هغه مهال د روانو پېښو په اړه یې د (بحران او نجات) په نوم کتاب لیکلی ؤ، په نومړي کتاب کې نادري کورنۍ لاسوهنه کړې او اصلي واقیتونه یې د خپلو ګټو په موخه اړولي یا له منځه وړي دي چې یو ثبوت یې، د نومړي کتاب او د مارشال شاه ولي خان د خاطرو کتاب (یاد داشتهای من) سبک او د پېښو څرنګوالي ورتهوالی دي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ستا څخه بل وړ کس نه وينو او د نه منلو په صورت کې به هېواد له ستر خطر سره مخ شي، نو د هېواد د خېر لپاره بايد دا دنده ومنی.
د سلامخاني په دننه او بهر کې بيا د مبارکۍ ناري پورته شوې او ملت په خپل ټينګار سره خپل واکمن په ډېره مينه وټاکه.[4]
د نادر خان ورور، شاه ولي خان د دې لپاره چې خپلې غصب شوې پاچاهۍ ته يو ډول مشروعيت ورکړي، د خپلو خاطرو په کتاب (ياد داشتهای من) کې د هغې ورځې جريان چې په سلامخانه کې نادر خان ځان پاچا کړ، له مبالغي او افراط ډک انځورونه وړاندې کوي، نوموړی په هغه ځای کې د نادر خان د وينا او د پاچا کيدلو په اړه ليکي:«... او تاسو خپل برخه‌ليک په خپله وټاکئ، د راتلونکي لپاره لاره روښانه کړئ، زه د افغانستان د خدمت او سرلوړۍ پرته بله هيله نه لرم، تاسو پخپله خپل پاچا وټاکئ، زه تاسو ته يوه توصيه کوم چې په هر کار کې پر خدای توکل وکړئ او پر ځان باور ولرئ. زه او زما کورنۍ چې په هر ځای کې وو د افغانستان خدمتکوونکي به وو.
شاه ولي خان وايي چې د [نادر خان] خبرې لا پای ته نه وې رسيدلي چې يو دم د خلکو شور جوړ شو او ټولو غږونه پورته کړل ويې ويل چې موږ تا له پخوا پيژنو، تاسو په دې ناروغ تن له خپله ځانه تېر شوي ياست او خپله کورنۍ مو قربانۍ ته ورکړې وه، تاسو په ټولو دورو کې د امانت او فداکارۍ ازموينه ورکړې ده، موږ ته دې آزادي رابښلي ده، تاسو موږ ژغورلي يو، پرته له تاسو، افغانستان د پاچاهۍ لپاره بل څوک نه لري، ته زموږ پاچا يې او موږ بيعت کوو.
شاه ولي يې په دوام ليکي: سپه سالار خلک د خپل لاس په اشاره او په پرله پسې غږونو باندې غلي کړل ويې ويل: داسې خدمت چې د ويلو وړ وي ما نه دی کړی، ما ستاسو غوندې د يو فرد په څېر خپله دنده ترسره کړې ده، دا دنده يوه ملي وجيبه ده چې زموږ او تاسو ټولو په ذمه ده، **زه د پاچاهۍ د دغه دروند بار له پورته کول څخه عاجز يم او هېڅکله به دغه کار ته ځان ورنکړم، تاسو اعليحضرت امان الله خان او يا د هغه له کورنۍ يو بل تن پاچا وټاکئ،** زه ژمنه کوم چې د زړه له کومي ستاسو له انتخاب سره همغږی شم.
شاه ولي خان وړاندې ليکي: بيا د خلکو ناري پورته شوې او په سختو قسمونو سره يې ويل چې موږ پرته له تا د پاچاهۍ لپاره بل وړ کس نه پيژنو.
شاه ولي خان يې دوام وايي چې له ټولو لومړی سردار محمد عمر خان او سردار امين الله خان د اعليحضرت ضياءالملة و الدين [د امان الله خان ورونو] منډه کړه چې د سپه سالار لاسونه ښکُل کړي او بيعت وکړي، د خلکو ليکې ګډوډې شوې او ټولو د بيعت کولو په موخه هجوم يووړ. سپه سالار د بيعت لپاره لاس ورنه کړ، خلک يې بيا غلي کړل، په لوړ غږ يې وويل: ستاسو له باور څخه مننه، هيله کوم چې دغه دروند پيټی زما په اوږو بار نه کړئ. په دې مينځ کې، په کابل کې د ترکيې سفير (حکمت بايور) چې د انقلاب [اغتشاش] پر مهال هم افغانستان کې ؤ، راوړاندې شو او په تفصيل سره يې وويل: څه پاتې نه وو چې د افغانستان سياسي موجوديت له منځه ولاړ شي، اوس هم خطر شته، حبيب الله [سقاؤ] له خپلو ځواکونو سره په کوهستان کې دی، ستاسو په هېواد کې ټولنيز نظام شړيدلی دی، يوازې تاسو وئ چې پايتخت مو له شورشيانو پاک کړ، که تاسو د ولس دغه صميمانه غوښتنه ونه منئ نو دا خبر به هر ځای ته ورسيږي، حبيب الله ګستاخ شوی او بيا راځي، ستاسو لښکر به ناهيلی شي او وبه پاشل شي، هغه مهال به د افغانستان د بربادۍ مسؤل تاسې وبلل شئ، زه د يو مسلمان هېواد استازي په توګه چې د افغانستان دوست دی، تاسو ته وړانديز کوم چې د خلکو دا ټينګار ومنئ، پخپله يې وګورئ! همدا اوس د سلامخاني بهر څو زره کسان د تبرونو او رسيو سره راټول شوي دي، هغوی چې خبر شي چې تاسو له پاچاهي انکار کړی دی، ښار به چور او سفارتونه به لوټ شي، په زرګونو کسان به ووژل شي، نو په تاريخ کې به د دغې پيښې مسؤل تاسو وئ، تاسو چې ځان او خپل ورونه او کورنۍ قربانۍ ته حاضر کړي وو، څه کيږي چې يو ځل بيا خپل ناروغ تن د خپل هېواد او ملت د سوکالی او سرلوړۍ لپاره قربانۍ ته وړاندې کړئ.
شاه ولي خان په پای کې ليکي: د حکمت بايور خبرې لا پای ته نه وې رسيدلي چې خلکو له څلورو خواوو هجوم راوړ او بيعت يې پيل کړ. سپه سالار چې ځان د خلکو په هجوم او بې صبرۍ کې محاصره وليد او هېڅ بله چاره يې نه وه، نو خلک يې غلي کړل، ويې ويل: **ما هېڅکله نه غوارم چې زه پاچا شم، زه ستاسو دا ټينګار، هيلې او غوښتنې د يو قرباني په څېر منم، چمتو يم چې ستاسو د خدمت په لاره کې ځان قربان کړم.**[5]

فرانسوی ژورنالسته او ليکواله، آندرې ويوليس چې د نادر خان سره يې ډېره خواخوږي درلوده او له مسکو څخه په الوتکه کې د نادر خان سره د ليدلو په موخه کابل ته، په هغه سهار رارسيدلي وه چې تېره شپه د سقاؤ زوی له کابله شمالي ته تښتيدلی ؤ، نوموړې ژورنالسته د نادر خان د پاچا کيدو په ورځ په کابل کې د فرانسې په سفارت کې اوسيده،

---

[4]: بحران و نجات. ۲۸۵مخ.
[5]: مارشال شاه ولي خان: ياد داشهای من. ۱۰۷-۱۰۶-۱۰۵مخونه.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيز بڼې پاڼوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

هغې د خپلو خاطرو په کتاب (په افغانستان کې توپان) کې د سلامخانی د غونډې څرنګوالی د اوریدلو پر بنسټ لیکلی دی، ښایي ډېری مالومات د نادر خان د پلویانو لخوا ورته ویل شوي وي چې د اشخاصو په نومونو او ځینو مالوماتو کې تېروتې لیدل کیږي، د سلامخانې د غونډې جریان نوموړې ژورنالستې په لاندې ډول لیکلی دی:

«د ارګ مخې ته نادر خان له آسه کوز شو او د دربار ړنګې مانۍ ته ننهوت چې په بیړه په کې یو څو چوکۍ ځای پر ځای شوي وې، څومره خلک چې کیدای شول راننوتي وو... او د غازي زنده باد! چغې یې وهلې.

فاتح [نادر خان] یوه شېبه د دغو سلګونو کسانو خندانو څېرو ته وکتل، بیا یې لاس پورته کړ. هر څه خاموش شول او هغه خبرې پیل کړې پخپل بم غږ یې وویل:«د الله په فضل دغه دی موږ بیا روغرمټ سره یو ځای شوو... موږ یوازې د خپل هېواد پروړاندې چې زموږ تر ټولو ارزښتناکه شتمني ده خپله وظیفه اجرا کړې او موږ چې وطن ته ګورو، نه شو کولای چې د امان الله چې دې خاورې ته یې بې شانه خدمتونه کړي او نوم به یې د سروزرو په ټکو د افغانستان په تاریخ کې یادوي، هېر کړو.»[6]

نادر خان وویل چې په هېواد کې د امنیت راوستلو په موخه باید ټول سره یو او کار وکړو او په کابل کې له بهرنیو سفیرانو یې مننه وکړه او هم یې د خپلو سرتېرو او قبایلو سربښندنې وستایلې او مننه یې وکړه.

لیکواله آندرې ویولیس لیکې:«د خلکو نارې پورته شوې او په څپو خپریدې. بیا علي محمد خان[7] چې پخوا په روم کې سفیر او اوس د پوهنې وزیر دی وینا وکړه: موږ نه پوهېږو چې څنګه به ستاسې مننه وکړای شو، لس میاشتې پر هېواد د لېونتوب خپسه خپره وه، تاسې د عقل لار ورته وښوده. تاسې د امان الله ستاینه وکړه، اجازه راکړئ چې موږ په خپل وار تاسې او ستاسې کورنۍ وستایو... خو په مخ کې پراته کارونه بې حده ډېر دي دا ړنګ او بې نظمه مملکت باید جوړ شي، موږ د دې درانه او سخت کار لپاره تاسې ته اړتیا لرو، تاسې یوازینی کس یاست چې کولای شئ افغانستان د یو مسلمان، خپلواک او متمدن هېواد په توګه د پرمختګ پر لار روان کړئ او په عین حال کې زموږ د پخوانیو عنعنو درناوی وکړئ.»

... ورپسې فضل ربي یو مقتدر ملا چې سپینه ږیره او سپینه پګړۍ یې درلوده او په هېواد کې ډېر منلی شخصیت دی پورته شو:

«د ټول ملت سترګې تاسې ته دراوړې تاسې افغانستان د هغه قطاع‌الطریق له منګولو وژغوره چې خدای تعالی یې د لاسونو او پښو غوڅولو امر کړی دي... موږ تاسې ته مخ دراړوو سوال درته کوو چې د پاچاهۍ دروند بار ته غاړه کېږدئ.»

آندرې ویولیس زیاتوي: د نادر خان درنې څېرې یو ژور احساس څرګنداوه له لږ ځنډ وروسته یې خبرې وکړې خو د هغه وړاندیز د ردولو لپاره چې ورته شوی ؤ:«ما چې خپل دَین ادا کړ د کوم شخصي مطلب لپاره مې نه دی کړی ما یوازې غوښتل چې خپل هېواد له هغه مصیبت وژغورم چې پرې راغلي ؤ، ډېره موده کیږي چې صحت مې ښه نه دی **نو له تاسې هیله کوم چې یو بل څوک وټاکئ، زه در سره ژمنه کوم چې زه به خپل ټول وخت او خپل ټول کوښښ وقف کړم چې حالات عادي شي یوه جرګه به په کابل کې راټوله شي او نوی پاچا به وټاکي.»**

لیکواله لیکي چې په حاضرینو کې د اعتراض غږونه اوچت شول. غلام محمد[8] یو دروند سپین ږیری چې پخوا د کورنیو چارو وزیر ؤ په مات غږ ټینګار وکړ:«له تاسې پرته هېڅوک د سلطنت دروند بار نه شي پورته کولای، موږ دعا کوو چې خدای صحت درکړې ځکه چې تاسې خپل ټول قوت وطن ته ورکړی دی، موږ ستاسې دلایلو ته درناوی لرو خو تاسې تل خپل مسؤلیت ادا کړی دی او اوس ستاسې مسؤلیت دا دی چې سلطنت ومنئ.»

نادر خان لا دوه زړی ؤ، **کابل مېشتو کوردیپلوماتیکو څو استازو ته یې چې د مراسمو لپاره د وسله والو په بدرګه راوستل شوي وو، مخ ورواړاوه او د نوي پاچا د غوراوي لپاره یې ترې مشوره وغوښته، د ترکیې مختار وزیر [سفیر] د خپلو سیالانو په نمایندګۍ داډ ورکړ چې تر ده غوره بل کاندید نه شته.** غلام محمد په داسې غږ چې احساساتو ورته ښېرته د ځوانۍ رنګ ورکړی ؤ وویل:

«که نادر خان پاچا نه وي نو هېڅوک به پاچا نه وي!»

---

[6]: آندرې ویولیس: په افغانستان کې توپان. ژباړه: نجیب منلی. ۸۳مخ.

[7]: لکه څرنګ چې میر محمد صدیق فرهنګ لیکلي، دا کس علي محمد خان نه، بلکې د امان الله خان د حکومت د پوهنې پخوانی وزیر، سردار فیض محمد خان زکریا ؤ چې د لیکنې په پای کې به د سردار فیض محمد خان زکریا په اړه مالومات وړاندې شي چې څرنګ د هر چا ډول ته نخیدلی دی!

[8]: غلام محمد وردګ د امان الله خان په حکومت کې د کورنیو چارو وزیر ؤ، داسې ویل کیږي چې نوموړی د حکومت له نسکوریدو وروسته هند ته کډه شو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په دې وخت کې د راټول شوو خلکو شور پورته شو، منګلو، وزیرو، اپریدیو، درانیو، د ختیځ او سوېل تګړه جنګیالیو لاسونه، ټوپکونه او توري پورته کړې او ناري یې کړې:

«که نادر خان پاچا نه شي موږ ټول بېرته ځو! ای زموږ غازي، پاچا شه، ویې منه! زموږ پاچا شه!»

لیکواله یې په دوام لیکي چې نادر خان یوه شېبه له خپلو ورونو او ملګرو سره مشوره وکړه، داسې ښکارېده، چې قانع کېږي په دې وخت کې دا ټول ځواکمن ولس چې مخه یې نه نیول کېده د هغه پر لور وخوځېد، ځوک یې لاسونه ښکلوي، ځوک یې جامې ښکلوي، ځوک یې ږیره نیسي، لکه یو خسرې یې پر هوا کړ د برې د نښان په څېر یې د انسانانو د کړنګېدلي سمندر پر سر پورته کړ.

په پای کې آندرې ویولیس وایي چې یوه ورځ وروسته نادر شاه خلکو ته په وینا کې د نورو خبرو تر څنګ وویل:«اوس چې تاسو وټاکلم مجبور یم ویې منم، زه له خدایه غواړم ما ته وس راکړي چې ځان افغانستان ته وقف او ترې ځار کړم **او عزت یې بې داغه وساتم، زه به پاچا نه یم، زه به د هېواد او قبایلو خدمتګار یم... .»**[9]

افغان مؤرخ میرمحمد صدیق فرهنګ یې په تړاؤ لیکي چې محمد نادر خان د ۱۳۰۸ل. ل، کال د تلې میاشتې په ۲۳مه نېټه کابل ته ورسید او مخامخ د سلام‌خانې ودانۍ ته ولاړ، هغه د وزیرو او جنوبي سیمې د لښکرو مشرانو، د کابل او اطرافو سپین‌ږیرو او د اماني دولت چارواکو پر وړاندې چې هلته ورغونډل شوي وو وینا وکړه، هغه په خپلو خبرو کې د نورو مسایلو تر څنګ وویل:«هېواد ته زما د راتلو موخه له غلو څخه د هېواد ژغورل وو چې اوس دا هدف ترلاسه شوی دی، **دا چې زه شخصاً د پاچاهۍ دعوه نه لرم، غواړم د هېواد د نوي پاچا د ټاکلو لپاره لویه جرګه راوغواړم تر څو د هېواد راتلونکی واکمن د ملت د استازو لخوا وټاکل شي.»** قبایلو ځواب ورکړ چې لویې جرګې دایرولو ته اړتیا نه شته، ته پخپله زموږ پاچا یې او ټول له تا سره موافقه لري.

دا مهال د پخواني دولت د پوهنې وزیر فیض محمد خان راوړاندې شو ویې ویل چې د اماني لویې جرګې اکثریت غړي په کابل او په همدې غونډه کې حاضر دي او ستاسو پر پاچا کېدلو باندې ټینګار کوي، فیض محمد خان د جنوبي د خلکو غوښتنه تایید کړه.[10]

هغه مهال چې نادر خان له ځاځیو کابل ته راورسید نو لومړی په چهل‌ستون کې ځای‌پرځای شو چې وروسته له چهل‌ستون څخه له قومي مشرانو سره یو ځای د ارګ د سلام‌خانې ودانۍ پر لور وخوځېد، د دې بهیر په اړه د وزیرستان د سرتېرو قوماندان غازي یار محمد خان خپل د سترګو لیدلی حال داسې لیکي:

«... دلته د کابل ښار مخور کسان او [په کابل کې] پاتې سرداران د سپاه سالار هرکلي ته راغلي وو د سفارتونو یو شمېر غړي هم تر سترګو کېدل، خلکو د محمد نادر خان ښه تود هرکلی او ښه راغلئ وکړ... کله چې د حاضرینو شور او زنده باد ناري غلي شوې، نو محمد نادر خان یوه لنډه وینا وکړه، د وطن د نجات ټولې کارنامې یې په ځان او خپلو ورونو پورې وتړلې، موږ ټول د قومونو مشران د ده تر نظر لاندې ناست وو، ولې زموږ د خدمتونو او هڅو یې لږ شان یادونه هم ونه کړه، د خپلو رېړو او تلاشونو له یادونو وروسته یې د سلطنت په اړه یادونه وکړه او د اعلیحضرت غازي امان الله د بیا راوستو تش وړاندیز یې وکړ او د دې وړاندیز سره جوخت د کابل مخورو او سردارانو په لوړو نارو او ولولو، له نادر خان څخه د سلطنت کولو او پر تخت کیناستلو غوښتنه وکړه، نو دا وخت د مال او مقام وږو او تږو او چاپلوسو کسانو نادر خان ته د بیعت لاسونه اوږده کړل چې په دې کسانو کې یو شمېر قومي مشران او د امان الله خان ورور شامل وو. موږ د وزیرو او مسیدو مشران په خپلو ځایونو ناست وو او زما ملګرو مشرانو زما د حرکت انتظار ایسته.
ما چې حالت او محل ښه درک کړی ؤ او د ځینو قومي مشرانو حریص نفسونه مې ولیدل او په دې هم پوه شوم چې نایب سالار حکمرانۍ ته خومره وږی دی نو مې دا غوره او بهتره وګڼله چې موږ د وزیرو مسیدو، دوړو او ټنیو مشران باید کوم حرکت ښکاره نه کړو **او محمد نادر خان په خپل، نه بیعت کولو سره په دې وپوهوو چې موږ ناراضه یو او دا د قرآني عهد خلاف کار کړی دی.**

که څه هم موږ کولی شول چې په هماغه غونډه کې خپل مخالفت ښکاره کړو خو دا مو هم په سترګو لیدل چې ارګ او د کابل ښار به د ناجي لښکرو په خپل‌منځي جګړه کې په وینو رنګ شي او له بل لوري حبیب الله [سقاؤ] په ټول افغانستان کې ماتې نه وه خوړلې، کندهار او مشرقي کې د هغه پلویان فعال وو او دی هم په خپله په کوهدامن کې ژوندی او فعال ؤ او زموږ له خپل‌منځي جګړې په استفادې یې کولی شول په لږ قوت سره فتح شوی کابل زموږ له لاسه وباسي نو همغه ؤ چې د محمد نادر خان سره د یو شمېر کسانو د بیعت او د هغه له لوري د بیعت منلو خبره مو بل مناسب وخت ته

9: په افغانستان کې توپان. ۸۳تر ۸۶مخ پورې.
10: افغانستان در پنج قرن اخیر. ۴۰۴مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پرېښوده تر څو موږ او محمد نادر خان يوازې وو نو هغه عهد او پيمان چې د سلامخاني په غونډه کې ترې هېر شوی ؤ، ور په زړه کړو.»[11]

---------------------------------------------------

**(*)سردار فيض محمد خان زکريا:** د امان الله خان د حکومت د پوهني وزير او د نادر خان د تره زوی هم ؤ، فيض محمد خان داسي شخص ؤ چي د وخت سره سم د هر چا ډول ته ګډيدلی دی، نوموړی چي د امان الله خان په کابينه کي د وزارت مقام ته رسيدلی ؤ، د امان الله خان له نږدې او باوري ملګرو څخه ؤ. د ډاکټر عبدالرحمن زماني په وينا، د انګرېز استخباراتو د اسنادو پر بنسټ، نوموړی له نورالمشايخ مجددي سره د امان الله خان د حکومت پر خلاف په اړيکه کي ؤ. بازنگری دورهٔ امانی و توطيهٔ های انگليس. ۳۴۸مخ.
فيض محمد خان زکريا د امان الله خان له پرځولو وروسته د سقاؤ زوی په خدمت کي شو، سقاؤ ته يي بيعت وکړ او هغه ليک يي لاس ليک کړ چي سقاؤ پر امان الله خان د کفر فتوا ورکړي وه. فضل غني مجددي: صفحه از تاريخ معاصر افغانستان. ۵۱۱مخ

فيض محمد خان د سقاؤ مشاور وټاکل شو خو کله چي نادر خان کابل ته راورسيد بيا يي له نادر خان څخه ملاتړ وکړ او له امان الله خان سره يي دښمني پيل کړه، هغه د نادر خان لخوا د بهرنيو چارو وزير وټاکل شو.
هغه مهال چي د امان الله خان په لاسيک د نادر خان د کړنو پر خلاف ځيني اعلاميي خپرې شوې، د غبار په وينا، د نادر شاه سلطنت يي ولړزاوه او د نادر خان قهر يي لاپسي زيات کړ، د بهرنيو چارو وزير فيض محمد خان زکريا د امان الله خان د اعلاميو د ردولو په موخه وړاندي شو او په بېړې يي يو کتاب د **(ترديد شايعات باطلهٔ شاه مخلوع)** په نوم وليکه چي په پښتو او اردو ژبو کي چاپ شو، په دې کتاب کي فيض محمد خان امان الله ډېر سخت ملامت او په ناروا تورن کړی دی په داسي حال کي چي وړاندې يي امان الله خان (امان الله کبير) باله.
او د کتاب په درېم مخ کي د سقاؤ اغتشاش ته يي د (انقلاب کبير) ورکړی دی. بازنگری دورهٔ امانی و توطيهٔ های انگليس. ۵۵۹مخ.

نېټه: ۱۴۰۲/۷/۳۰ل. ل

**نور بيا**

د ښاغلي محمد انور اخڼ آرشيف

[11]: د افغانستان د خپلواکی او نجات تاريخ. ۳۳۳-۳۳۲مخونه.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ